# د پلار احترام

## په (۱۶۰) طریقو



Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

لیکوال:
ابوالزبیر عبدالرب عواد

## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | د پلار احترام په (۱٦۰) طریقو |
| لیکوال: | ابوالزبیر عبدالرب عواد |
| خپرندوی: | افغان خپرندویه ټولنه، جلال کوټ |
| کمپوز او ډیزاین | شریف الله للمه وال ۰۷۸۷۲٦۷۵۸۵ |
| چاپ شمېر: | ۵۰۰۰ |
| چاپ کال: | ۱۳۹۷هـ ،ش یا 2018میلادي |
| بیه: | (    ) |
| بریښنالیک: | gullmuhammadadil78@gmail.com |



د هر نوع چاپ حقوق د خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.



## ترلاسه کیدو ځای:

**افغان کتاب پلورنځی - جلال اباد_افغانستان**

پته: لاندې پوړ، اسحاق زی مارکیټ، بزازی ځلور لارې .

**اړیکشمېرې:** ۷۷۹۰۹۰۷۸۲ (۹۳+) – ۷۸۰۸۵٦۱۷۴ (۹۳+)

**خراسان کتاب او قرطاسیه پلورنځی - جلال اباد_افغانستان**

پته: لاندې پوړ، اسحاق زی مارکیټ، بزازی ځلور لارې .

**اړیکشمیره:** ۷۸۸۸۸۷۷۹۷ (۹۳+)

بسم الله الرحمن الرحيم

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

CamScanner

# مقدمه

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا. من يهده الله فلامضل له ومن يضلل فلاهادي له وأشهد أن لاإله إلا الله وحده لاشريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله

امابعد:

محترمو ورونو په دې کتاب کې مونږ د پلار احترام په اړوند ځينې آداب ذکر کړي دي چې مونږ د ټولنې د هر اړخيز ژوند ته په کتو سره ځينې ښه او مناسب اصول او قواعد هم ذکر کړي دي چې مونږ او تاسې بايد د خپل پلار ښنگه احترام وکړو.

دا کتاب مونږ ډېر مختصر برابر کړی دی سره ددې چې ددې موضوع په هکله ډېر زیات قرآني ایتونه او نبوي احادیث موجود دي، خو چون مونږ مختصر- کړ، چې زمونږ ورونه او خویندې په اسانۍ ترې ګټه پورته کړي او الله تعالی دې زمونږ دا وړه رساله په ټولنه کې د یو ستر بدلون سبب وګرځوي، څکه چې څینې ورونه د پلار هغه حق نه ادا کوي چې ورته اسلامي شریعت ورکړي دي او الله تعالی دې دغه کتاب زمونږ لپاره او زمونږ د مور او پلار او اهل لپاره سبب د دخول د جنت وګرځوي.

امین یارب العالمین

ستاسې ورور او خادم عبدالرب عواد عفی الله عنه

۱۳۹۷\۱۲\۱۲هـ،ش

۱٤۳۹\۸\۱٦هـ،ق

# د کتاب لیکلو باعث

څه وخت مخکې مونږ یوه عربي رساله پښتو ژبې ته وژباړله چې دهغې کتاب مضمون و د مور احترام په (۱۵۰) طریقو سره، چې هغه رساله الحمدلله ټولو ورونو واخیسته او مطالعه یې کړه او الله تعالی ورته قبول حسن ورکړ او ان شاءالله دهغې سره به د هر بچي په ذهن کې د خپلې مور شان موجود شوی او داحترام اراده به د هر ورور په زړه کې پیداشوي وي، ځکه چې زیات ورونه د مور او پلار هغه مناسب احترام نه کوي چې څنګه یې لایق دي، نو کله چې زمونږ دغه رساله د خلکو لاسونو ته ورسیده نو زیاتو ورونو دا غوښتنه وکړه چې زمونږ په ټولنه کې ځینې خلک د پلار مکمل درناوی نه کوي نو په همدې خاطر دا مناسب ده چې زمونږ د افغاني ټولنې مناسب څه لیکل دي چې په کوم شکل مونږ د پلار احترام وکړو، نو دغه مو وکړه او د الله تعالی نه مو د مرستې غوښتنه وکړه تردې چې د ګرانو ورونو مخې ته د پلار احترام په (۱٦۰) طریقو سره کېښود او الله تعالی دې وکړي چې دغه مختصر لیکل زمونږ په ټولنه کې د یو ښه بدلون لامل وګرځي.

# ولې په ټولنه کې ځینې خلک د مور او پلار مناسب احترام نه کوي

۱. خلک ناپوهه دي د مور او پلار د شان او قدر نه پېژني.

۲. د دنیا لالچ او محبت داسې حد ته رسیولي چې خلک اوس مور او پلار ډېر مهم نه گڼي.

۳. کله کله د مور او پلار نه دکور اداره خرابه شي چې دا هم د بې احترامۍ لامل گرځي.

٤. اولاد ته ډېر ناز ورکول که هر غلط کار کوي وايي پروا نه کوي دا لا خام ځوان دی، چې ددې نتیجه بیا دا شي چې د مور او پلار بې احترامي شروع کړي.

۵. خپل اولاد تعلیم ته نه متوجه کول او همداسې جاهلان پرېښودل په ځانگړي ډول اسلامي تعلیماتو ته چې دا هم بیا د بې احترامۍ لامل گرځي.

٦. کله چا ن خپل پلار احترام نه کړی نو جزا من جنس العمل ده ځکه نن دده نه کېږي.

# د مور او پلار د نافرمانۍ نقصانات

۱. د شریعت د امر مخالفت کول دي.

۲. د ډېرو احساناتو مقابل کې ناشکري کول دي.

۳. په انسان کې دا ستره نیمګړتیا حسابېږي.

٤. د الله تعالی د رضا نه محروم کېدل دي.

۵. په راتلونکې کې د خپلې بې احترامۍ لامل کېدل دي.

٦. د صله رحمۍ قطع کېدل دي.

۷. د بد اخلاقۍ مظاهره کول دي.

۸. د زړه د سخت والي نښه ده.

۹. خپل ځان د ډېرو اجرونو او ثوابونو نه محروم ول دي.

۱۰. د الله تعالی د رحمت نه لرې کېدل دي.

CS CamScanner

## مور د ډېرو احساناتو لایقه ده او که پلار؟

دا خو واضح حقیقت دی چې مور او پلار دواړه د قدر وړ او احـترام والا خلـک دي، ځینــې فقهـاء د شــوافعو او مالکیانو وایي چې د مور او پـلار حقـوق برابـر دي او نـور علماء د مور جانب غوره ګڼي، چـې دا قـول د للیـث بـن سعد او المحاسبي کړی په کتاب (الرعایه) کې.

خلاصــه دا ده دواړه د پــوره احــترام وړ دي خــو د مــور یادونه په احادیثو کې زیاته شوې ده.([1])

[1] نضرة النعیم، ج۳ص۷٦۸

# مور او پلار سره د نېکۍ کولو ګټې

۱. دا د کامل ایمان او اسلام نښه ده.

۲. دا په عباداتوت کې غوره عبادت دی.

۳. دا د جنت د تللو لار ده.

٤. په مال او اولاد کې برکت پیداکېدل.

٥. په اخرت کې لوړه مرتبه او په دنیا کې ښه شهرت.

٦. که تا د پلار احترام وکړ نو ستا به کېږي. جزا من جنس العمل ده.

۷. د مور او پلار د رضا سره د الله تعالی رضا ده.

۸. د دنیا او اخرت د سعادت سبب دی.

۹. دلیل د ښه خاتمې دی.

۱۰. په دنیا کې د زړه سکون دی او اخرت کې کامیابي ده.

۱۱. ددې سره ټول غمونه او تکالیف ختمېږي.(۲)

۱۲. د دنیا او اخرت نور به در نصیب کړي.

[۲] نضرة النعيم ج۳ص۷۷۹

# د پلار احترام په (۱٦۰) طریقو

۱. تل چې د خپل پلار سره خبرې کوې نو په نرمه لهجه یې کوئ او په خوش مزاجی یې کوه. او په موسکا کې یې کوه.

۲. خپل پلار ته همېشه خواږه خبرونه وایه او ربښتیني کیسې ورته کوه چې خوشحاله شي.

۳. تل لپاره د خپل پلار صفتونه کوه پټ او ښکاره ځکه چې ستا په تربیت کې یې ډېر زحمتونه ګاللي دي.

٤. پلار ته همېشه دا وایه چې زما ستره خوشحالي داده چې ته په سعادت کې ژوند وکړې. او ته خوشحاله یې او ته زمونږ نه راضي یې دا زمونږ ستر ارمان دی.

۵. که ستا مور او پلار ژوندي وي نو ډېر احترام یې کوه او صدقه پرې کوه. او خدمت یې کوه او که وفات شوي وي نو دعا ورته کوه او د هغوی لپاره صدقه کوه.

CamScanner

٦. دخپل پلار لپاره یوه صدقه جاریه کوه چې تل لپاره ثواب ور روان وي، لکه د پلار لخوا نه جومات ته ځمکه ورکول یا جومات جوړول یا د قران کریم یوه حلقه د پلار لخوا چلول، یا یوه د یتیمانو مدرسه جوړول.

۷. څه چې ستا د پلار ارمان وي نو هغه ورته زر پوره کوه، پدې شرط چې د شریعت مخالفت په کې نه وي، یا دخوراک په هکله وي یا د جامو او بوټانو په اړوند وي.

۸. خپل پلار په هر چا مخکې کړه که ښځه وي او که بچی وي، که ملګری وي، که عام کارونه وي یعنې په هر څه خپل پلار ته ترجیح ورکړه.

۹. کله کله خپل پلار د خپلو بچو او لمسو سره یو تفریحي ځای ته بوځه چې لږ خوشحاله شي او شنې سیمې او ښه ساحې پرې وګوره.

۱۰. د خپل پلار ډېر احترام کوه که تا واده کړی وي نو کله خپل زوی لاس نه راونیسه او ورته ووایه چې پدې

سلام واچوه او پلار ته دې خپل زوی په غېږ کې کېنوه ځکه نېکه د لمسو په ليدو هم خوشحالېږي.

۱۱. کله خپل بوډا پلار د ځان سره که او يو مشهور هوټل ته يې يوسه او د هغې د صحت مناسب خوراکونه پرې وکړه.

۱۲. که ستاسې پلار دهقان وي يا بل کارکوونکی وي نو په هر کار کې ورته دمه ورکوه. او داسې مه کوه چې بوډا پلار نه خولې روانې وي او ته ځوان ورته چنه گرځې.

۱۳. ځينې مشهور تجارتي ښارونه چې تاسې سره نږدې وي او امن پکې وي نو خپل پلار ځان سره که او دغسې صنعتي سيمو ته چکر ورکړه.

۱٤. کله کله يو ښايسته ډالۍ ورته برابره کړه او خپلې مور ته دې ورکړه. او ورته ووايه چې مورې! ته دا د

خپل طرف نه پلار ته ډالۍ کړه چې ددې کار سره د کور فضا هم ښه کېږي. او پلار به دې هم خوشحاله شي.

۱۵. چې مور او پلار دې دواړه ناست وي نو د مور سره بحث مه کوه او مه ورسره سخته لهجه کوه ځکه ددې سره بیا پلار خفه کېږي چې په کور کې ګډوډي وګوري.

۱٦. تل د پلار صفت کوه چې پلاره ته ډېر ښه او شریف انسان یې او ګاونډیان تانه ډېر خوشحاله دي او زامن هم ستا په هلو ځلو څه قاریان شول او څه علماء او څه پوهنتونونو کې دي.

۱۷. کوښښ کوه چې د خپل پلار د راز خبره چاته ونه کړې ځکه چې پلار پرې خفه کېږي رازونه یې همېشه ساته.

۱۸. ته تل لپاره د ځان نه یو غټ خادم جوړ کړه د خپل پلار لپاره. که هر څه غواړي یا کوي باید ته ورته حاضر یې.

۱۹. تل لپاره پلار سره په نرمه لهجه خبرې کوه. که ستا معلومات ډېر وي او که لږ بیا هم هغه ستا پلار دی.

۲۰. پلار دې چې ناست وي په یو مجلس کې نو د هغه په مخامخ خپې مه غزوه او مه متکبره کېنه عاجزي ورسره کوه.

۲۱. کله که شریک خوراک کوې نو تردې خوراک مه کوه چې پلار دې خوراک شروع کړی نه وي. او ښه خوراک دپلار مخې ته کېږده.

۲۲. که ته په اسلامیاتو کې دوکتوره لرې یا په ساینسي مضامینو کې او ستا پلار یو امي سړی وي بیا هم په تا یې احترام لازم دی که کینې نو بالخ به ورته شاته ږدې او که ځې نو بوټان به ورته جوړوې او بې احترامي به یې په هېڅ صورت نه کوې.

۲۳. ځینې خلک په جرګو او مجلسونو کې خپل پلار ته وایي ته کور ته لاړ شه او ته په خبره نه پوهېږي او

ستا ماغزه خراب ذي، دا د پلار سپکاوی او تحقير دی او داسې ويل ورته مناسب نه دي که ته ژورناليست يې او که مستنطق او که قاضي يا جرګه مار يې خو داسې الفاظ به خپل پلار ته نه وايې.

۲٤. ځينې ورونه چې تهول ودونه وکړي نو بيا تهول خپل پلار نه بېل شي بيا دوی پلار ته د يو ګاونډي په نظر ګوري د هغې د خوراک څکاک جامه بوټان وغيره هيڅ سوچ نه کوي او پلار په يوه زړه کوټه کې پروت وي چې په هر باران کې څاڅکی او بل طرفته زامن د خپلو ښځو سره په لوکسو کوټو او پالنګونو کې پراته وي او پلار ته د يو خادم په نظر ګوري چې دا سراسر ظلم او وحشت دی مناسب داده چې زامن په شريکه خپل پلار ته يوه ښايسته کوټۀ جوړه کړي او دهيڅ قسم ضرورت نه يې ځان غافله نه کړي.

۲۵. په کور کې د خپلو خوېندو او ورونو سره ښه رويه کوئ چې ددې سره هم ستاسې والد صاحب

خوشحالېږي او که تاسې همېشه خپل واړه ورونه او خویندې وهئ نو پلار طبعاً پدې خفه کېږي او زمونږ هدف همدا د ی چې باید پلار خفه نه کړو.

۲٦. کوم مال چې ستاسې والد صاحب مصرفوي نو پدې مه خفه کېږئ خو پدې شرط چې د شریعت موافق یې خرچ کوي، مثلاً پخپل اولاد مصرف کوي، یا کوم جومات جوړولو کې ونډه اخلي، یا د یوې مدرسې سره کومک کوي، یا عامې لارې جوړوي، یا خلکو ته کوهیان جوړوي، یعنې خیریه کارونه کوي نو ته پدې ټولو خوشحاله شه او افرین ورته ووایه.

۲۷. خپل کشران ورونه او خویندې تل دې ته هڅوه چې د خپل والد احترام وکړي او هېڅ وخت یې بې ادبي ونه کړي او دا وخت مه ورکوه چې د پلار په مخامخ تیزې خبرې وکړي.

۲۸. کله چې د پلارعمر ډېر شي نو همدغه وخت ستا د جنت د ګټلو دی او (۲٤) ساعته د هغې په خدمت کې ګرځه که خوراک غواړي او که څکاک او که پاڅېږي بوټان ورته مخې ته جوړ کړه او امسا ورته راواخله.

۲۹. د ډېر تشويق لپاره کله هغه زامنو ته جامې وکړه چې ورته بوټان وغيره را اخلي کوم چې ستا د پلار ډېر احترام کوي او داسې ووايه چې زما دا ځوی زما د پلار ډېر احترام کوي نو فلهذا زه دې ځوی ته دا جايزه ورکوم او دا پدې خاطر چې دا نور ماشومان د مشرانو احترام ته متوجه شي.

۳۰. همېشه د پلار د غوښتنو پوره والی کوه که د پلار دا شوق وي چې زما لپاره دې يوه ښايسته کوټه وي او ښه قالينه دې وي او دژوند ځينې مهم ضروريات په نظر کې لري نو دا ټول ورته پوره کوه د خپل طاقت برابر.

۳۱. يو مهم ادب دا هم دی چې د پـلار د ملگـرو سره ښه چلند کوه او ډېر احترام يې کوه، د پلار د وجې نه او د اجتماعي اخلاق دي، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما يو کس وليد په سفر کې نو يوه اوښه يې ورکـړه او خپلـه پگړی يې ورته ورکړه نـو يـو چـا ورتـه وويـل: چـې دا خـو اعرابي (بانډه چي) دی په لږ څه راضي کېږي نـو دومـره قيمتي شيان دې ولې ورکړل؟ عبدالله بن عمـر رضي الله عنهما ورته وويل: دا زما د پـلار عمـر بـن الخطـاب رضي الله عنه ملگری دی.

۳۲. که پلار هر څه غواړي نو فوراً يې ورتـه راوړه، خـو په دې شرط چې د شريعت مطهره مخالفـت پـه کـې نـه وي.

۳۳. د پلار احترام او آدب دا هم دی چې هر کال يـې عمرې ته ولېږه که ته پرې قادر يې. ځکـه د پـلار حقـوق ډېر تا ډېر زيات دي هېڅ وخت يې نـه شي پـوره کـولی د

خپل پوره کوښښ نـه کـار اخلـه او د احـادیثو نـه دا هـم معلومېږي چې عمره هر کال سنت ده.

۳٤. کله کله د اولاد ترمنځ مسابقه اچـوه چـې څـوک به د خپل پلار ډېر احترام کـوي او څـوک بـه د هغـې پـه مخامخ شور او چغې نه وهي زه به هغې ته جایزه ورکړم.

۳۵. کله چې چېرته ځي نو د پلار نه همېشه وروسـته ځه، که په سفر ځـې یا جومات ته ځې یا کور ته ځې، نـو د خپل پلار سره په آدب تلل کوه او مخکې ترې مـه ځـه مگر که ضرورت وي، نو بیـا هغـه جـدا خـبره ده. د علـي رضي الله عنه نه چا پوښتنه وکړه چې حسـن او حسـین تاسره په کور کې څنگه ژوند کوي هغه ورته وویـل: چـې دوی هېڅ وخت په لار زما نه مخکې نه ځي او که چیرته پورته کېږم نو ماپسې دوی وروسته پورته کېږي.

۳٦. هېڅ وخت پلار ته داسې الفاظ مـه وایـه چـې تـه جاهل یې او ته نه پوهېږي او د کور نه مه راوځه او تـه د

ښځو سره ښه ښکاره کېږي او ته بې سواده یې دا ټول د بې ادبۍ کلمات دي ځان ترې ژغورل پکار دي.

۳۷. د زامنو ذهن دې داسې جوړ کړه چې ستا د پلار احترام وکړي او هېڅ داسې مه وایه چې کاکا ته کنځلې وکړه او بابا ته کنځلې وکړه او منډه بابا نه ږیره راکش کړه او دا تیږه واخله مور دې پرې ووله دا ټولې بې تهذیبه خبرې دي او افسوس پدې چې دا ټولې زمونږ په ټولنه کې شته.

۳۸. ځینې ناپوهان په خپل مور او پلار شرمېږي او ورته وایي ماسره مه ځه، یا ورته وایي فلانکی ځای کې د قرانکریم ختم دی خو پلاره ته ورته مه ځه ځکه هلته ډېر غټ خلک راځي او قاریان دي او علماء او ته هلته ښه نه ښکاره کېږې، ته په څه نه پوهېږې او کور کې پاتې شه غواګانو ته به واښه وکړې او زه به لاړ شم، دا ټولې د جهالت خبرې دي او هېڅ په پوهه او عقل بنا نه دي.

۳۹. د دعاګانو د قبلېدو وختونه معلومه کړه او په هغې کې خپل پلار ته په اخلاص همېشه دعاګانې کوه ځکه دا یې پر تا حق دی.

٤۰. په هر کار کې خپل پلار مکمل واکدار وګڼه. که د چا سره خپلولي کوې یا کوم بل کار کوې نو د پلار خبرې ته ډېره توجه ورکړه. مثلاً که په کور کې کوم ماشوم پیداشي او په نوم انتخاب کې اختلاف وي نو هغه نوم غوره کړئ چې کوم پلار غوره کړی وي خو پدې شرط چې د نوم په معنی کې کوم شرعي مشکل نه وي،

٤۱. د دنیا په کارونو او د ملګرو سره په ملاقاتونو کې دومره ځان مه مصروفوه چې د خپل پلار احترام او عزت او د هغې قدرداني درنه پاتې شي.

٤۲. د دنیا کارونه هېڅ وخت نه خلاصېږي او نه پوره کېږي، ډېر کرتې یو کس خپل پلار په میاشت کې هم نه ګوري دومره غرق وي په دنیا کې، مهمه دا ده چې مونږ

او تاسې بايد د خپل پلار د ناستې لپاره يو خاص وخت مقرر کړو مثلاً د ماښام لمانځه نه وروسته او د هغې د صحت او حال پوښتنه وکړو.

۴۳. د خپل پلار د ورونو سره رابطه ساتل، زيات پوهان د دنيا د متاع د وجې نه خپل (تره) ته د يو دښمن په نظر ګوري او حال دادی په يو حديث کې راځي: (العم صنوابيه) تره د پلار ځانګه ده. نو دخپلو ترونو سره ښه رابطه د پلار د خوشحالولو يو مهم سبب دی که ستا د پلار او تره ترمنځ کوم مشکل وي نو ته يې د ختمولو هڅه کوه، نه د مشکل د پيداکولو.

۴۴. تل پخپل پلار فخر کوه او داسې وايه زما پلار ښه سړی دی لمونځ ګذاره دی، خيرخواه دی هر چاته ګاونډيانو سره ښه چلند کوي، د هر مسلمان جنازې ته ځي، د مريض پوښتنه وي، که ستا پلار پدې اړوند نيمګړتيا هم لري نو هغه مه ذکر کوه.

٤٥. کله کله پلار ته وايه چې پلارجانه زمونږ د اسلام په مبارک دين کې د مور او پلار د احترام او عزت په اړوند ډېر ايتونه او احاديث موجود دي او ستاسې د ادب او قدرداني په مقابل کې الله تعالی مونږ ته جنت راکوي، نو ددې سره هم ستا پلار خوشحالېږي.

٤٦. د اسلام مبارک دين ته سوچ وکړه چې څومره لوړه مرتبه يې پلار ته ورکړې ده که چېرته يو زوی خپل پلار قتل کړي نو په مقابل کې زوی قصاص کېدای شي او که بالفرض پلار له خوا زوی قتل شي نو پلار نشي قصاص کېدای.

٤٧. همېشه پلار ته وايه چې پلارجانه ماته ډېره دعا کوه او مونږ ستا دعا ته ډېر محتاجه يو.

٤٨. ځينې خلک د ناپوهۍ له وجې نه د پلار احترام نه کوي خو بيا حينې خلک ښه علم ورسره وي پوهنتون نه فارغ وي او مغروره به وي، د پلار احترام او

حقوقو ته هېڅ توجه نه کوي، نو دا مناسب نه ده او ته چې د خپل پلار احترام کوې اصلاً ته خپله دنیا او اخرت ښایسته کوې.

۴۹. پلار ته هر وخت وایه چې پلارجانه ته خو به زما نه خفه نه یې او ته ولې خفه یې او دا ته څه سوچونه کوې څه مشکل دی تاته او ته څه غواړې، مقصد پلارجانه مانه مه خفه کېږه، بیا ماته ټوله شپه خوب نه راځي چې ته خفه یې.

۵۰. تل پدې هڅه او کوښښ کې اوسه چې هېڅ ورور ستا مخکې والی ونه کړي ستا نه د پلار سره په ډېره علاقه ساتلو کې یا ډېر احترام کې یا په ډېر مصرف کې پخپل پلار باندې.

۵۱. د پلار په څنګ کې چې ناست یې نو خاموش اوسه او په کراره خبرې کوه په ادب سره ناسته کوه، د

CamScanner

پلار په طرف خپلې خپې مه خوره وه او پلار ته گوره چې څه امر کوي هغه کوه.

۵۲. ځینې خلک چې واده وکړي نو پلار نه بېل شي او لرې چېرته کور یوسي بیا د پلار پوښتنه نه کوي او نه یې ځان د حالاتو نه خبروي نو داسې مناسب نه ده دا کوښښ وکړه چې تل پلار سره نږدې وخت تېر کړې او روزانه یې پوښتنه وکړې او ځان یې د حالاتو نه خبر کړې او ددنیا د پیسو لالچ ډېر مه کوه د پلار احترام او حقوقو ته متوجه شه.

۵۳. ځینې خلک د خپل پلار نه خدمت اخلي او پخپل پلار کارونه کوي یا د کور او یا نور کارونه چې دا هم مناسب عمل نه دی، یو ملگري ماته کیسه وکړه وایي چې زه یو شرکت ته لاړم گورم چې هلته یو بوډا سړی دفتر پاکوي او مېزونه یې صفا کول چې د دفتر رئیس ورته په غوسه شو چې ځایونه سم نشې پاکولی او سست کېږې، دا وایي چې ما ورته وویل: احتیاط کوه

دا خو مشر سړی دی احترام یې کوه، وایي ددفتر رئیس راته وویل چې دا بابا زما پلار دی وایي زه ډېر خفه شوم خو پدې خبره مې ورسره بحث وکړ او زړه کې مې ځان سره وویل چې زه به نور ستا خواته رانشم، قدرمنو سوچ وکړئ یو څوک دې ته رسیدلی یې چې د دفتر رئیس وي خو د پلار احترام نه کوي او قدر یې نه کوي او خدمت یې ورنه اخلي او د پلار نه یې غلام او مزدو جوړ کړی وي چې دا د یو څو پیسو په خاطر چې دنیا جوړه وي او اخرت تباه وي، پس افسوس د داسې عقلمندو په هکله پکار دی الله تعالی دې ورته هدایت وکړي.

٥٤. که ستا کور د پلار نه جدا شوی او بل ښار یا کومې بلې ولسوالۍ یا ولایت ته تللی وي نو بیا هره ورځ ورسره تلیفوني اړیکه ساته او د هغوی د ژوند نه ځان خبروه.

٥٥. که ته په بل ولایت کې اوسېږې او تلیفوني اړیکه هره ورځ کوې خو کله د پلار ځنګ ته ورځه او ورسره

مجلس کوه خو د پلار په پوښتنه کې د ځان سره ښځه او بچی هم یوسه ځکه چې ستا پلار خپل لمسی وګورئ نو پدې هم خوشحالېږي.

۵٦. کله کله به د پلار مزاج ستا د مزاج نه مکمل مخالف وي نو ته به ددې مخالفت نه کوې، بلکې ته به دلته د خپل مزاج مخالفت کوې او دپلار مزاج او غوښتنه به عملي کوې، خو ګوره پدې شرط چې د پلار مزاج د شریعت څخه مخالف نه وي.

۵۷. دا فکر ځان سره زیات کوه چې زه د خپل پلار څومره احترام کوم او څومره بې ادب کوم او څومره زه نیمګړتیاوې کوم د پلار په حقوقو کې او یا زه دا ښه کوم او که بد. او ایا پلار به زما نه خوشحاله وي او که خفه به وي نو په داسې فکر به ته یو هدف ته ورسېږې.

۵۸. پدې هم یقین وکړه که زه د خپل پلار احترام وکړم، نو زما اولاد به زما احترام وکړي او که کوتاهي پکې

وکړم نـو زمـا پـه حقوقـو کـې بـه بيـا کوتـاهي کېـږي، همداسې يوه کيسه مشهوره ده چې يو پلار ډېر بوډا شوی و نو زامنو يې وويل: راځئ چې دا پلار د فلانکي کمر نه را گوزار کړو، هلته يې چې ورسـوو پلار وويـل: صبر وکړئ يوه خبره درته کوم. د همدې کمر نه ما خپل پلار گوزار کړی و نو قدرمنو سوچ وکړئ او د مور او پلار په احترام او ادب سره خپله دنيا او اخرت ښايسته کړئ.

۵۹. کله که د پلار صحت ته څه مشـکل پيـداشي نـو فوراً يې ځنگ کې پاتې شه او هيڅ ورنه مه جـداکيږه او مکمله تداوي يې کوه اوغافله او بې خبره ورنه نه شې.

٦۰. د خلکو په مخامخ پلار ته وايه پلارجانه ښايسـته واسکټ دې اخيستی ښه بوټان لرې، ښايسته جامې په تن او ماشاءالله دا لـونگۍ درسره ډېـر سـور کـوي دا هـم هغه خبرې دي چې پلار پرې خوشحالېږي.

٦١. کله که د سفر نه راشې نو پلار ته د سفر حالات بیان کړه او خوږې کیسې ورته وکړه، او خپل تکلیفونه او زحمتونه ورته مه وایه.

٦٢. د پلار مشکلات په نظر کې ونیسه او د بدن دردونو ته یې تل متوجه اوسه او که هر څومره سختې خبرې تاته پلار کوي هغه په ارامه سینه واوره.

٦٣. په ځینو حالاتو کې پلار په نشه یې توکو اخته وي نو بیا داسې پلار ضرور غوسه ډېره کوي او د اولاد حقوق هم نه ادا کوي او کور کې کله کاسې ماتوي او کله نور شیان. خو مونږ او تاسې به د داسې پلار په مقابل کې د بې اخلاقۍ او بد زبانۍ مظاهره نه کوو، بلکې د داسې پلار به د غره نه زیات احترام کوې او کوښښ به کوې چې د چرسو یا افینو نصوارو، سګرټو مخه یې په ښایسته طریقه بنده کړو او ددې کار نه ځان وژغورئ.

٦٤. ځینې خلک په خپل ځان پوهېږي ښایسته جامې او لباس هم اچوي د ګرمۍ او یخنۍ جدا جدا لباس استعمالوي، بل طرفته پلار همېشه په زړو جامو کې ګرځي او شکېدلي بوټان او زړه لونګۍ نو داسې حالاتو باندې ځنګه یو غیرتي ځوان صبر وکړي باید ضرور د پلار لباس ته متوجه شي.

٦٥. هر کار چې کوې نو د خپل پلار نه مشوره واخله هغه پرې خوشحالېږي اګر که ستا پلار بې سواده وي دهقان وي، یا دوکاندار وي یا ډرېور او یا بل کوم کسب والا وي، خو په مشوره اخیستلو ستا پلار خوشحالېږي.

٦٦. د پلار په مخامخ متکبره مه کېنه او مغروره په عاجزۍ ناسته کوه، داسې نه چې دا پخپله بالخ ته تکیه وهلي او پلار شاته دې بالخ نه وي، یا ته پخپله په توشک ناست یې او پلار دې بې توشکه چې داسې حالت هیڅ وخت واقع نه شي.

٦٧. ځینې ناپوهان وایي درې میاشتې کېږي چې ما د خپل پلار سره خبرې نه دي کړي، ولې څه مشکل دی هغه وایي پر ما یې غوسه کړې ده چې دا څومره د ناپوهۍ عمل دی. هغه ستا پلار دی تا د ادب لپاره هر وخت وهلی شي او فوراً لاړ شه د خپل پلار نه عفوه وغواړه او کنه آخرت به دې تباه شي.

٦٨. په ځینو حالاتو کې پلار ډېر بوډا شي نو په کور کې د خپلو زامنو او لورګانو او لمسو ټولو سره سخته رویه کوي، حتی ځینې مشران پلاران په خپلو اینګورګانو ګوزارونه کوي او کله غلط الفاظ وایي، دا ټول هغه څه دي چې د مختلفو کورنیو یا قومونو یا د ځینو محیطونو اثر د وجې وي. یا ځینې کورنۍ د علم او پوهې نه ډېر وروسته پاتې وي نو د هغوی په داخل کې دا کنځلې کول عادي خبره بلل کېږي، خو بیا هم مونږ او تاسې به د پلار د سختې لهجې صبر سره کوو او

ځواب به نه ورکوو او د غوسې ځواب به په موسکا ورکوو او د ګوزار ځواب به په پلارجانه ورکوو.

٦۹. د پلار دا هم یو ادب دی چې کور ته روان وي او یو څه ورسره وي هغه یې د لاس نه واخله که دهغې وزن ډېر وي او که لږ، یا ځینې پلاران د پټو نه وابښه په شا راوړي نو ته مخې ته ورشه او هغه ترې راواخله چې پلارجانه دا ماته راکړه.

۷۰. عام خلکو کې دا عادت دی که د پلار د هغه ښه استعداد ولري یعنې ښه عالم وي یا ښه قاري وي یا ډاکټر یا اینجینر خو د کور خلک بیا هم هغه ته په هغه نظر نه ګوري کوم چې مناسب وي مثلاً نوم به یې عبدالله وي او بخاري او مسلم درس به کوي خلک به یې ډېر احترام کوي خو د کور خلک به ورته وایي عبدالله یعنې ساده نوم ورته اخلي. یعنې د احترام لپاره د پلار سره صفت ذکر کوه لکه ډاکټر صیب، قاري صیب او نور...

۷۱. کله چې د پلار سره يوځای خوراک کوې نو د ډېر ادب نه کار واخله او هغه څه د پلار مخې ته کېږده چې هغه يې خوښوي او د پلار د خوراک نه وروسته خوراک شروع کوه.

۷۲. د پلار مزاج وپېژنه او د هغې موافق چلند ورسره کوه چې دا زما پلار د کوم مزاج والا سړی دی څه ښه ګڼي او څه بد ګڼي او څه ته ميلان کوي او څه ته يې نه کوي بيا د هغې د غوښتنو موافق ورسره ژوند تېروه.

۷۳. زياتره خلک چې واده وکړي يو دم بدل شي او د خپل پلار سره هغه چلند کوي چې مناسب نه وي، بس د يوې زنانه د محبت له وجې هغه پلار شاته کړي د کوم په خدمت کې چې الله تعالی ورنه راضي کېږي او په نتيجه کې الله تعالی جنت ورکوي، نو د واده نه وروسته بيا هم د پلار احترام مهمه فريضه وګڼه او هېڅ د ښځې په محبت کې غفلت کې نه شي چې پلار درنه هېر شي.

۷٤. زياتره خلک په کور کې د پلار کوټه ښه جوړوي او ښه يې ورته فرش کړي وي، کله چې ستاسې زامن ستاسې سره راشي نو دې ته يې مه پرېږدئ چې د پلار کوټه دې ګډوډه او هر څه ورته بې ځايه کړي.

۷۵. کله واړه ماشومان ډېر ورانی کوي که د پلار کوم وسايل د استعمال خراب کړي يا يې مات کړي نو فوراً ورته نور راوړه. د پلار امسا دې ماشومانو ماته کړه يا يې ورکه کړه يا يې نور څه خراب کړي نو عوض يې ورته ضروري راوړه.

۷٦. کله که دې پلار مريض وي نو پوره معاينات يې وکړه او ماشومان ورسره څنګ کې ډېر مه پرېږده چې شور او چغې وهي چې پلار دې ورسره په تکليف کې کېږي.

۷۷. د ځينو خلکو خپلولي ډېره زياته پراخه او ډېر خپلوان او ډېر لمسي يې وي، نو که ټول لمسي- په يوه

ورځ د پلار پوښتنې ته ورشي شاید دهغې د تکلف سبب شي، نو ښه به دا وي چې لمسي- په نمبر نمبر ورشي، هغه به خوشحاله شي چې زما پوښتنه کېږي او شور به يې هم په خنګ کې جوړ نشي.

۷۸. زامن باید یو څه وقف کړي د پلار لپاره پدې خاطر چې دا د پلار لپاره صدقه جاریه شي، مثلاً یو جومات جوړ کړي یا یو کوهی چېرته وباسي یا یوه لار جوړه کړي چې مسلمانان پرې ځي راځي او دا هر څه د پلار لپاره وقف کړي چې پلار ته يې اجر ورسېږي.

۷۹. د ورونو عادتونه مختلف وي د چا اخلاق ښایسته وي او څوک ډېر دینداره وي او څوک ډېر سخا والا وي، خو تر ټولو به ښه ورور هغه وي څوک چې د خپل پلار سره ښه چلند کوي او ښه رویه ورسره کوي او احترام د پلار ډېر کوي.

۸۰. دا خبره مشهوره ده چې محبت په کله کله تلو راتلو سره زیاتېږي خو د پلار سره به داسې نه کوې او دخپل پلار به روزانه او وخت په وخت پوښتنه کوې او دا به په عامو خلکو نشي قیاس کولی.

۸۱. کله کله دې پلار ته تلیفون ورکوه چې د خپلو زامنو او لمسو پوښتنه کوي، که لرې ورنه اوسېږې او یا ورته یو ساده تلیفون پیداکړه چې زامن او لمسی یې پوښتنه کوي په مطمئن او خوشحاله وي.

۸۲. کله کله پلار ته یو څو لونګی ګانې واخله چې خپلو ملګرو ته یې ډالی کوي یا ورته رخت اخله چې خپلو ملګرو ته یې ډالی کړي، پدې کې به یې یو ملګری ترې خوشحاله شي بل به ستا پلار ستا نه راضي او خوشحاله شي.

۸۳. که اولاد د پلار پوښتنې ته ورځي نو پکار ده چې سلام واچوي او په ادب سره يې څنګ کې ناسته وکړي او په دمه دمه خبرې وکړي.

۸٤. که ته د کوم خارجي هېواد نه راځې یا د بل کوم سفر نه راځې نو خپل پلار ته ضرور یوه تحفه راوړه چې ددې سره پلار خوشحالېږي.

۸۵. خپلو کشرانو ورونو ته همېشه د اتفاق او اتحاد درس ورکوه او د پلار قدر او احترام ورته یادوه چې ددې سره به دې پلار هم خوشحالېږي.

۸٦. کله که ستا پلار نه وي او چېرته تللی وي نو ته په مجلس کې د پلار بدیانې او نقصانات مه بیانوه. زیات خلک داسې وي زما پلار ډېر بد اخلاقه دی، الله دې زر مړ کړي، ټول کور ترې په تنګ دی، داسې خبرې کول مناسب نه وي بلکې د پلار په ځینې ذاتي نیمګړتیاوو خبرې پکار دي او ښایسته د حل لاره يې پکار ده.

۸۷. زیاتره خلک چې گورم د خپل پلار د ژوند نه سر تېکوي او ډېر شکایتونه ترې کوي، زه وایم یقیني چې ځیني شکایتونه به د اوریدو وي خو سوچ وکړه د همدغې ضعیف پلار د خدمت په وجه به الله تعالی تاته جنت درکوي که ستا پلار داسې مریض وي چې په کټ کې پروت وي نو دا خو ضرور امتحان دی خو گوره همدا ستا د جنت د گټلو وخت هم دی.

۸۸. کله که دې مور نه وي چېرته تللي وي نو ته پلار ته د خپلې مور شکایتونه مه کوه چې پلارجانه مور داسې ده او داسې ده، ځکه ددې شکایت سره دې هم پلار خفه کېږي او هېڅ وخت باید مونږ او تاسې د پلار زړه ته خفگان داخل نه کړو.

۸۹. که ستا پلار دویمه او درېیمه ښځه کوي نو ته ددې مخالف مه واقع کېږه یو خو دا شرعي جایز عمل دی بل ستا د پلار طبعه ده پرېږده چې هغه پرې خوشحاله وي او ته به د خپلو ټولو مورگانو احترام کوې

او هېڅ فرق به نه کوي، ځکه په فرق کولو دې بيا پلار خفه کېږي.

۹۰. د هغه چا سره ډېره رابطه ساته خوک چې ستا پلار سره رابطه ساتي او د پلار په شان د پلار د ملګرو لحاظ کوه ځکه ددې سره دې پلار خوشحالېږي.

۹۱. که پلار دې ډېر بوډا شي نو ډېر خدمت يې کوه د اودس لپاره هره ورځ لوټه ورته ږده چې کله پورته کېږي نو د لاس نه يې نيسه او بوټان ورته مخې ته ږده او ورته وايه چې پلار جانه صحت دې ښنګه دی.

۹۲. ځينې وخت انسان د ټولنې د مشکلاتو له وجې نه يا د کورنيو ستونزو په وجه خفه وي نو که ستا پلار خفه وي نو ته تسلي ورکړه او يو څو د خوش طبعې خبرې وکړه چې د پلار دې په خوله مسکا راشي او خوشحاله شي.

CamScanner

۹۳. ډېر کرتې په کور کې مختلف قسم مشکلات راځي نو شاید ستاسې پکې یو نظر وي او د پلار مو بل وي، نو تاسې دخپل نظر نه تېر شئ او په هغه څه باندې عمل وکړئ چې ستاسې پلار یې خوښوي، پدې شرط چې د شریعت مطهره نه پکې مخالفت ونه شي.

۹٤. که ستا پلار هر څه ته ضرورت لري نو هغه ورته راوړه او دې ته صبر مه کوه چې پلار یې ماته ووایي.

۹٥. کله که ته خپل پلار ته یو څه راوړې نو بیا ورته هغه مه یادوه چې گوره پلاره ما تاته دا فلانکی شی راوړی دی ځکه هغه ددې سره مایوسه کېږي.

۹٦. کله که ته د پلار په حق اداکولو کې کوتاهي وکړې او یا درنه نیمگړتیا وشي نو بیا خپل پلار ته عذر وړاندې کړه او ورته ووایه چې ما معاف کړه.

۹۷. که پلار دې ډېر بوډا شي نو بیا ورته داسې الفاظ مه وایه چې هغه پرې خفه کېږي، ځینې ورونه پلار ته

داسې الفاظ وایي چې کله هغه ډېر بوډا وي یا سخت مریض وي چې د پلار د شان سره مناسب نه وي.

۹۸. کله په کور کې پلار داسې کارونه کوي چې مو پرې خفه کېږي نو ته فوراً د ځان نه قاضي مه جوړه چې پلار سره لانجې شروع کړې بلکې د حل ... یو څه لار وګوره.

۹۹. تل لپاره داسې سوچونه کوه چې ... پلار راضي کړم او د کوم ترتیب نه کار واخلم او څه باید وکړم، د پلار د خوشحالۍ په اړوند نوي ... سوچونه کوئ.

۱۰۰. ځینې خلک د پلار سره همېشه یو قسم نېکي کوئ مثلاً فقط بوټان جامې وغیره ورته اخلي ... بس بلکې نورې مختلفې نیکیانې د پلار سره پکار ... د ژوند ... مختلفو اړخونو کې.

۱۰۱. د پلار خبره او مشوره که هر څومره کمزوري وي خو نه يې ښه ګڼه او داسې ورته مه وايه چې ته په خبرو نه پوهېږې.

۱۰۲. کله چې پلار سره خبرې کوې نو ته دهغې په منځ کې خبرې مه کوه چې د هغې خبرې قطع کړې، بلکې په ښه سوچ او فکر او غوره سره د پلار مکملې خبرې واوره.

۱۰۳. هغه ایتونه او احادیث ډېر ګوره چې د مور او پلار قدر او احترام پکې ذکر شوی او څومره اجر او ثوابونه پدې مقابل کې ورکول کېږي.

۱۰۴. کله چې یو څوک وګوري چې خپل پلار ته تکلیف ورکوي نو ته ورته نصیحت وکړه چې وا ناپوهه وروره دنیا او اخرت که اباد ول غواړې نو دا بوډا پلار خوشحاله کړه احترام او قدر یې وکړه.

۱۰۵. په مجلس کې د پلار نه لرې مه کېنه او مه ورته په مجلس کې شاه ور اړوه بلکې په وقار سره ورسره ناسته وکړه او نږدې ورسره کېنه او تل یې خدمت ته چمتو اوسه.

۱۰٦. که ستا پلار دکور نه وځي او چېرته ځي نو فوراً ودرېږه او بوټان ورته مخې ته کېږده که ستا پلار ځوان وي او که زوړ او دباندې دروازې پورې ورسره راووځه او دروازه ورته خلاصه کړه او په ډېر احترام ترې ستون شه.

۱۰۷. د پلار د حقوقو په اړوند په هر څه کې مخکې والی کوه مثلاً د مریضتیا غم یې اول ته کوه که د خوشحالۍ خبره وي نو اول یې ورته ته کوه، که د لمسي د پیداکېدو زیری وي نو اول یې پرې ته کوه.

۱۰۸. کله که پلار تاته غوسه وکړي یا کله د آدب لپاره په تا کوم گوزار وکړي نو ته خپل پلار ته ځواب مه ورکوه. او یو فرصت پیداکړه او پلار ته قناعت ورکړه چې

پلارجانه زه ملامته نه یم او خبره داسې ده او که ته ملامته وې نو بخښنه ترې وغواړه.

۱۰۹. ځینې پلاران په طبعي لحاظ سره زیاتې غوسې کوي او زامن یې نیکان وي، نو پدې ټولو صبر پکار دی او دا صبر کول اجر وګڼه چې الله تعالی یې تاته د قیامت په ورځ ددې بدله درکړي.

۱۱۰. د خپل پلار ښایسته صفات همېشه ځان سره ولیکه په یو کاغذ او سوچ کوه چې زه څنګه ددې پلار سره تل لپاره نېکي کوونکی جوړ شم.

۱۱۱. ځان سره سوچ وکړه چې د څومره زیاتو خلکو پلاران وفات شوي دي او د نیکیو دغه وسیله یې ختمه شوې ده او زما دپاره څومره ښکلی فرصت دی چې زه باید د خپل د هرې ورځې ژوند غنیمت وګڼم او خپلې نېکیانې زیاتې کړم.

١١٢.  کـه پـلار دې سـخت مـريض شي نـو بيـا ډېـر ګرځېدل مه کوه او مـه پـه چکـرو ګرځـه ،ځکـه سـتا هـر حالت کې ستا خدمت ته ضرورت لري.

١١٣.  ابوالليث السمرقندي رحمه الله وايـي: د پـلار پـر اولاد دا حق دی چې خوراک ورکړي چې کله خوراک تـه محتـاج شي او د خپـل طاقـت سره سـم لبـاس ورتـه ورکړي.(٣)

١١٤.  وهب بن منبه رحمه الله وايي: د مور او پلار قـدر او احترام او حقوق اداکول عمر زياتوي.(٤)

١١٥.  حسن بصري رحمه الله وايـي: د پـلار پـه اولاد دا حق دی چې خپل مال پرې خرچ کړي او د څـه نـه چـې پلار غواړي خوراک ورکول شي. (٥)

---

٣ نضرة النعيم ج٣ص٧٧٩
٤ نضرة النعيم ج٣ص٧٧٩
٥ نضرة النعيم ج٣ص٧٧٩

CamScanner

۱۱٦. امام طاوس رحمه الله وايـي: سـنت طريقـه داده چې د څلورو احترام وکړو، عالم، دويم مشر کس، درېيم بادشاه، څلورم پلار.[٦]

۱۱۷. مور او پلار که د چا مؤمنان نـه و، نـو هـم احـترام به يې کوئ او کوښښ به کوئ چې په اسـلام کـې داخـل شي.[۷]

۱۱۸. مور او پلار ته همېشه دعاګانې کوه او رحـم پـرې وکـړه او شـفقت پـرې کـوه، ځکـه تـا سره يـې ډېـر زيـات احسانات کړي دي.

۱۱۹. په اخترونو او خوشحاليو کې پـلار تـه ښـه لبـاس راوړل، دا رنګه چې کله ستا ورونه يا زامن چېرته کامياب شي امتحان کې نو يوه ډالۍ پلار ته راوړه چې پلار جانه دا ټولې ستاسې د هڅو نتيجه ده.

[٦] نضرة النعيم ج۳ص۷۷۹
[۷] نضرة النعيم ج۳ص۷٦۸

۱۲۰. پلار ته په کور کې وخت په وخت پیسې ورکول چې هغه یې مصرفوي یا یې بچو ته ورکوي یا یې چېرته په جومات یا مدرسه کې صدقه کوي، ته ددې انتظار مه کوه چې هغه به ماته ووایي چې زویه پیسې راکړه.

۱۲۱. د پلار د عمر سره موافق خدمت کوه کله به ځوان وي کله بوډا او کله به روغ وي او کله مریض، خو هېڅ وخت ترې غافله کېږه مه.

۱۲۲. کله چې د کوم لرې ځای نه راشې نو اول د خپل پلار کوټې ته ورشه او سلام پرې واچوه او د خپل صحت ډاډ ورته ورکړه او د سفر ښه حالات ورته بیان کړه او د تکلیف او زحمتونو کیسې ورته مه کوه.

۱۲۳. پخپل ژوند کې هغه کارونه کوه چې کوم ستاسې پلار خوښوي او کور سره مو نږدې وي چې هر حالت کې د پلار سره ناسته او ولاړه وکړې.

۱۲٤. کله چې د اوږد سفر نه راشې نو د پلار څنګ ته ورشه او سلام پرې واچوه او تندی یې ښکل کړه او د سفر نه راوړې تحفې ورته ورکړه چې پلارجانه دا ما فقط په فلانکي ښار کې ستا لپاره اخیستې وې.

۱۲٥. روزانه خپلو بچو ته د پلار مرتبه وروپېژنه او نصیحت ورته کوه چې د پلار اړوند د هر قسم کوتاهۍ نه ځانونه وژغورئ.

۱۲٦. د دنیا په هر ډګر کې که الله تعالی تاته کامیابي درکوي نو اول شکر د الله تعالی ادا کوه او بیا وروسته پلار ته وایه چې پلارجانه دا ټول ستاسې کوښښونه دي چې مونږ نن دومره کامیابۍ ته ورسېدو.

۱۲۷. کله چې پلار سره کومه وعده وکړې د جامو، بوټانو یا د حج یا عمرې نو دا بیا حتمي پوره کړه او پخپلو وعدو کې د پلار سره مخالفت مه کوه.

۱۲۸. هېڅ وخت د خپل پلار سره جنګ مه کوه اګر که ته به په حقه ولاړ یې، دنیا کې ډېر داسې جاهلان شته چې هغه په پلار ګوزارونه کوي او کنځلې ورته کوي چې دا ډېر بدبخته انسانان دي.

۱۲۹. د یوې جلۍ د محبت له وجې نه ډېر جاهلان خپل مور او پلار قتلوي داسې یوه کېسه تېره شوې چې هلک او جلۍ سره جوړ وو او جلې هلک ته وویل چې تاسره په دې شرط واده کوم چې خپل مور او پلار قتل کړې، هغې ظالم خپل مور او پلار دواړه قتل کړل، اوس په دنیا کې د داسې انسانانو نه غټ بدبخته به بل څوک وي.

۱۳۰. د خلکو په مخامخ داسې مه وایه چې پلار دې موجود دی، چې زما پلار جاهل دی لېونی دی په څه نه پوهېږي، تاسې ددې نه مه خفه کېږئ داسې خبرې زیاتره عوام خلک خپلو پلارانو ته په کلیوالي شخړو او لانجو کې وایي چې دا د پلار ډېره بې احترامي ده.

۱۳۱. کله پلار ددنیا په کارونو نه پوهېږي نو ته یې ددې په وجه سپک او حقیر مه ګڼه چې بلادې ووهه، په هیڅ نه پوهېږي، دا ته چې پوهېږې دا بس دی، همدا ستا د پلار کمال دی.

۱۳۲. د پلار په مخامخ ډېره غوسه مه کوه یا ځان نه د بارې بدمعاش جوړ کړې او پلار دې ناست وي، همدارنګه د پلار په مخامخ ډېرې چغې مه وهه همدارنګه په لوړ اواز خندا مه کوه چې په بل کټ کې ځان راګوزار کړې، ځکه پدې کې د پلار بې ادبي ده. د پلار په مخامخ خاموش کېنه او فقط خبرو ته یې مسکا کوه او متوجه اوسه چې څه درته وایي فقط د امر تابع یې اوسه او بس.

۱۳۳. د پلار مریضتیا ته متوجه اوسه همېشه چې څه تکلیف لري او که دوامداره مریضتیا لري نو بیا دهغې مرض دوا همېشه په کور کې ساته او وسایل د مرض لګه: د فشار اله او وغیره ...

۱۳٤. په هره میاشت کې یو کرتې د پلار ټول معاینات کوه پدې خاطر چې تسلي یې وشي او خوشحاله شي او دا سوچونه مه کوه چې پدې ډېر مصرف راځي چې دلته یې مصرف نه کړې نو چېرته یې مصرفوې.

۱۳۵. تل د پلار د خوشحالۍ سره ځان خوشحاله کړه او د خفګان سره یې ځان خفه کړه او چې هغه مسکا کوي نو ته مسکا کوه داسې نه چې هغه مسکا کوي او تا تندی تریو نیولی وي.

۱۳٦. کله چې پلار مریض وي نو تسلي ورکوه چې ان شاءالله جوړېږې او هېڅ مشکل نشته او ډاکټر ماته وویل چې پلار دې روغ جوړ دی دا خبرې پدې خاطر کوه چې د پلار دردونه دې کم کړې.

۱۳۷. د پلار د مرض په اړوند د ښه ماهر ډاکټر سره مشوره کوه چې د پلار دې ښه معاینات وشي او ځانته په کلیوالي ډاکټر اکتفا مه کوه.

۱۳۸. کله پلار ته وایه چې پلارجانه ستا خواږه ملګري څوک دي هغه ټول راټول کړه چې فلانکې سیمې ته چکر در کړم، یا راځئ د کامې ژاله دربانديې وخورم دا ټول هغه څه دي چې مشران خوشحاله کوي خو زمونږ ځوانان ترې غافله دي او فقط پخپل ځان هر څوان ښه پوهیږي د مشرانو حقوق نه پیژني.

۱۳۹. کله پلار ته وایه چې پلارجانه! څه ته دې زړه کیږي هغه ووایه زه خوشحالیږم که ته هر څه غواړې که پلار چپ شي ته ورته وړاندیز وکړه چې پلاره د درونټې ماهیان خورې، که مسکا یې وکړه نو بس ګاډی راتاو کړه او د بچو سره یې پکې سور کړه او دا ارمان یې پوره کړه ځکه پلار ستره خزانه ده چې د لاسه یې ورنه کړې.

۱۴۰. کوښښ دا وکړه چې د پلار لپاره په کور کې خاص اطاق برابر کړې، چې د ژوند ضروریات پکې موجود وي، همدارنګه که په ګرمۍ عامې ډیره کې ناسته کوي نو ښایسته کټ او پسته بستره او مخې ته میز ورته ضرور

کېږده چې دا ستاسې د کور بادشاه دی احترام يې په تاسې فرض دی.

۱۴۱. کله که دې پلار په سفر چېرته ځي نو ښه اطمينان ورکړه او تر ډېره حده ورسره لاړ شه که ممکنه وه او بيا ورسره وخت په وخت تليفوني رابطه کوه.

۱۴۲. خپل خفګان او د خپل ژوند د غمونو کيسې پلار ته مه کوه، ددې سره پلار خفه کېږي بلکې خپلې د خوشحالۍ او راحتونو کيسې ورته کوه.

۱۴۳. د خپلې ښځې د بد ژبانۍ کيسې او د لانجو او شخړو کيسې دې پلار ته مه کوه او داسې پلار ته مه وايئ چې شيشکه ښځه دې راته کړې ده، ټوله ړېره يې رانه وويستله، ځکه که پلار د کور په اداره خوشحالېږي نو د کور په لانجو او شخړو کې يې مه خبروه.

۱۴۴. د پلار په مخامخ داسې مه وايه چې ډېر احسانات ما سره کاکا کړي دي او ډېر راسره ماما کړي

دي او ډېر راسره فلانکي کړي دي، ځکه پدې خبرو پلار مایوسه کېږي او اصلاً ډېر احسانات تاسره پلار کړي دي ار که د کاکا او ماما احسانات به هم وي خو د پلار په مخامخ فقط د پلار صفتونه کوه.

۱۴۵. که ستا پلار کې ځینې نیمګړتیاوې وي، نو دهغې کیسې خپلې ښځې ته مه کوه چې زما پلار هسې لېونی دی او کم عقل دی او ساده دی، ځکه پدې خبرو بیا ستا ښځه ستا د پلار عزت نه کوي او په ذهن کې ورته کم معرفي کېږي. که هر څومره نیمګړتیاوې په کې وي بیا پلار خپلې ښځې ته د غر په شان معرفي کوه.

۱۴۶. شاید کله په کور کې د مور او پلار ترمنځ ځینې وخت خبرې رامنځته کېږي او یو پر بل خپل اوازونه پورته کړي او ته پر دغه وخت په هېڅ کوم طرف کې مه ودرېږه ځکه تاته دواړه د احترام وړ دي او د ځان نه

قاضي مه جوړوه بلکې سوچ وکړه چې د مور او پلار ترمنځ دغه مشکل ځنګه ختم کړم.

۱۴۷. ته د کور د ښه اداري جوړولو په خاطر دا کار کوه چې مور ته د پلار صفتونه کوه او پلار ته د مور صفتونه کوه یعنې یو بل ورته ښه معرفي کوه چې د کور نظام همېشه جوړوې ځکه په دې جوړ نظام پلار او مور دواړه خوشحالېږي.

۱۴۸. پخپل پلار ډېرې نیوکې مه کوه چې پلاره ستا مزل خراب دی او بوټان دې خپو کې غټ دي او واسکټ دې ډېر زوړ دی، بلکې همېشه د پلار صفتونه کوه چې پلاره ته ښایسته انسان یې، ستا ښایسته اخلاق دي ښه لباس لرې، ښه عطر وهې ښکلي اخلاق لرې، پدې خبرو پلار خوشحالېږي.

۱۴۹. د خپلو ورونو سره جنګ او لانجې مه کوه او مه ورسره په معمولي خبرو اواز اوچتوه ځکه دا هغه څه

دي چې والد محترم خفه کوي او د پلار خفګان ولې پیداکوي، په عادي کارونو.

۱٥۰. کله په کور کې ځینې مشکلات موجود وي او هغه مشکلات پدې ختمېږي چې پلار بله ښځه وکړي، نو ته پدې صورت کې د پلار سره مخالف کېږه مه چې پلاره بله ښځه به نه کوې، ته پلار خپلې خوښې ته پرېږده او په داسې مسایلو کې دهغې سره شور مه کوه.

۱٥۱. که پلار دې ساده امي انسان وي نو د علماء د قران درسونو ته يې کېنوه او د علماوو د سیرت درسونه پرې واوروه، چې عقیده او عمل يې د قران او سنت سره برابر شي.

۱٥۲. زیاتره مشران خلک نصوار اچوي که ستاسې والد صاحب پدې مرض اخته وي نو په ډېره خوږه لهجه ورته ووایه پلارجانه د نصوارو اچول حرام دي او دا نشه يې شیان ستا بدن خرابوي او پدې مصرف کول دا تهول

اسراف دی دغه پیسې مسکین فقیر ته ورکړه، ګوره پوره لس کاله کېږي چې ته دا عمل کوې دغه د یوې ورځې مصرف حساب کړه او بیا د کال او د لسو کالو پیسې څومره جوړېږي، بس پلارجانه زه درته سوال کوم چې نور نصوار اچول پرېږده.

۱۵۳. سګرټ څکول حرام دي خو ځینې ځوانان د خپل پلار په مخامخ سګرټ څکي، ګناه او بې ادبي دواړه جمع کوي ګرانه ځوانه! سګرټ پرېږده د پلار په مخامخ او شاته هم نور یې مخه څکه.

۱۵۴. ستا به ستر احسان او کومک د پلار سره دا وي چې د علماوو درسونو ته یې ولېږه او د وعظ مجالسو ته یې ولېږه، حج یا عمرې ته یې ولېږه.

۱۵۵. دخپلو خپلوانو د جنګونو او لانجو کیسې دې پلار ته مه کوه، پلار ته همېشه پاکه او ښکلې خبره کوه چې پرې خوشحاله شي.

CamScanner

۱٥٦. پلار ته په کليوالي مسايلو کې د خلکو عيبونه مه بيانوه، او مه ورته دا وايه چې فلانکی پلاره تا ته کنځلې کولې او تا پسې يې خبرې کولې، ځکه ددې خبرو سره د هغې په زړه کې هم ډېر څه پيداکېږي او تشويش هم ورسره پيداکېږي.

۱٥۷. که د پلار عمر دې هرڅومره ډېر شي او تاته وايي چې ماته عطر راوړه او ماته فلانکی صابون يا شامپو راوړه نو هره خبره يې منه او محروم کوه يې مه د داسې عادي شيانو نه.

۱٥۸. که په کور کې څوک ناڅاپي وفات شي او پلار دې خبر نه وي نو ډارک پلار ته مه وايه چې فلانکی څوی يا لمسی- دې مړ شو، ځکه دا طريقه غلطه ده بلکې اول ورته د صبر خبرې وکړه او بيا ورته ووايه چې په تکليف باندې صبر کول دومره اجر لري يعنې د اورېدې مقدمې نه وروسته يې خبر کړه.

۱۵۹. د پلار په مخامخ د بل چا د تربیت صفتونه مه کوه، چې کاشکې زما ځوک وای چې زما یې هم داسې تربیت کړی وای ځکه ددې سره دې پلار خفه کېږي داسې مه وایه.

۱۶۰. کله چې پلار خبرې کوي نو مخامخ ورته خاموش کېنه او ځان مه گروه او مکمل ورته متوجه شه او هرې خبرې ته یې په مسکا ځواب ورکړه.

۱۶۱. که ستاسې د والد صیب عمر ډېر وي او شنه میوه ورته راوړې نو داسې مېوه ورته راوړه چې دهغې د غاښونو زور پرې ورسېږي او بیا ورسره کېنه میوه ورته جوړوه چې هغه یې خوري او پسته پسته ورته مخې ته ږده. او ورته وایه پلارجانه دا وخوره دا وخوره او دهغې په خوراک کولو ته خوشحاله شه او چې پلار درنه خوشحاله وي نو ته پوه شه چې الله تعالی درنه راضي دی.

# نصیحتونه

۱. د الله تعالی نه ویره وکړه چېرته چې یې.

۲. تل خپله ژبه د الله تعالی په ذکر لمده ساته.

۳. تل د پنځه وخته لمانځه په جماعت سره پابند اوسه.

٤. د سبا او د ماښام اذکار هېڅ وخت مه پرېږده.

۵. تل لپاره د نیکو خلکو سره ناسته او ولاړه کوه.

٦. هېڅ قسم نیشه یي توکې مه استعمالوه.

۷. د هر قسم حرام مال نه ځان وژغوره.

۸. هېڅ وخت متکبره او مغروره مه جوړېږه.

۹. تل لپاره خپلې پیانځې پورته ساته د ښنګرو نه.

۱۰. همېشه لپاره لیدل کتل حرام ځایونو ته مه کوه.

۱۱. د جاهلانو خلکو د مجلس نه ځان ساته او دهغوی د ملګرتوب نه.

CamScanner

١٢. خپل کور او جومات کې ډېر وخت تېروه.

١٣. هره شپه (تبرک الذي) سورة لوله.

١٤. د هرې جمعې په ورځ د (سورة الكهف) لوستل مه هیروه.

١٥. تل لپاره بې کاره اوزګار مه ګرځه بیا درنه ګناهونه کېږي.

١٦. روزانه د قرانکریم څه برخه تلاوت کوه.

١٧. کوښښ وکړه چې همېشه په اوداسه کې وګرځې.

١٨. ډېره پرمخ پرېږده او بریتونه کم کړه.

١٩. د حلال مال پسې ګرځه او د حرام نه ځان ساته.

٢٠. خپل کور ته TV تي وي (تلویزیون) مه راوړه.

٢١. د غیبت او چغلخورۍ نه ځان وژغوره.

٢٢. روزانه لس روپۍ صدقه وکړه.

٢٣. همېشه د مور او پلار احترام کوه.

CamScanner

۲٤. لمونځ تل لپاره په دمه دمه کوه.

۲٥. تل لپاره د بدعاتو او رواجونو مخالف اوسه.

۲٦. د دوشنبې او پنجشنبې روژه یاده لره. او ویې نیسه.

۲۷. د مشرانو احترام او په کشرانو شفقت کوه.

۲۸. د علماوو او د قرانکریم د حافظانو ډېر احترام کوه.

۲۹. د قرانکریم د ترجمې او د احادیثو د درسونو سره علاقه ساته.

۳۰. د دنیا سره ډېره مینه کوونکی مه جوړېږه اخرت والا شه.

CS CamScanner